DA AFGHANISTAN BANK

د افغانستان بانک

آمریت عمومی نظارت از مؤسسات مالی غیر بانکی

د صرافی او جواز ورکولو مرستیالیت

د جواز ورکولو مدیریت

شماره: ۱۱۸۵۹ ۱۲۲۳۹ / ۱۲۲۴۰

تاریخ: ۱۴۴۷/۸/۱۵ ۱۴۰۴/۱۱/۱۴

بسم الله الرحمن الرحیم

د برېښنایي پیسو مؤسسو د قدر وړ اتحادیې ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

ماهیت: متحدالمال

موضوع : د څار پلاوي د ګمارلو په اړه

په ډېر درناوي سره لیکل کیږی:

د څار پلاوي ګمارل یو د مقرراتي شرطونو له مهم شرط څخه ګڼل کیږي او په عین حال کې د مؤسسې د چارو د تنظیم او څارنې په برخه کې زیات ارزښتناک رول لري. نو له همدې امله، د افغانستان بانک د لید لوري په اساس، جواز لرونکې مؤسسې نشي کولای چې د افغانستان بانک کارکوونکي او د لاندې ادارو محترم وزیران، معینان، او عمومي رئیسان د څار پلاوي د رئیس یا د غړو په توګه وګماري:

1 . د مالیې وزارت؛

2 . د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژی وزارت؛

3 . د صنعت او سوداګری وزارت؛

4 . د اقتصاد وزارت؛

5 . د زراعت او مالداری وزارت؛ او

6 . سوداګریز بانکونه.

همدارنګه، ټول هغه بهرني برحاله د څار پلاوي غړي چې د افغانستان بانک لخوا تائید شوي نه وي، مکلف دي د دې متحدالمال د صادریدو نېټې څخه وروسته د دوو میاشتو په موده کې افغانستان ته راشي او اړونده مؤسسه باید په رسمي ډول د افغانستان بانک ته خبر ورکړي تر څو د یادو غړو څخه حضوري کاري مرکه واخیستل شي.

پورته موضوع ستاسو د قدر وړ اتحادیې سره شریکه شوه تر څو د اجراآتو په موخه د جواز لرونکو مؤسسو سره شریکه کړئ.

د افغانستان بانک ستاسو په چارو کې د لا بریاوو غوښتونکی دی.والسلام

۱۴/۸/۱۴۴۷

صدیق الله خالد

د افغانستان بانک لومړی مرستیال

کاپی: د وړو تمویلونو قدر وړ اتحاد

د افغانستان بانک، ابن سینا و
تولنیزې شبکې